# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۹ د زمري شپږمه | د ۲۰۲۰ د جولای ۲۷مه | ۵۷٤مه گڼه


## ولایت

۴ مخ

### نیمروز

په دغه ولایت کې د کمال خان بند شته چې که په پخوانۍ نقشه جوړ شي، د ۱٦۷۰۰۰ هکتاره ځمکې د خړوبولو، ۹ میگاواټه برېښنا او ۵۲ میلیون مترمکعبه اوبو د زېرمه کولو وړتیا لري.



## مجددي: سعودي عربستان په افغانستان کې ٦۰۰ ښوونځي جوړوي



په ریاض کې د افغانستان سفیر احمد جاوید مجددي وایي چې سعودي عربستان په افغانستان کې د ٦۰۰ ښوونځیو جوړول منظور کړي دي. نوموړي زیاته کړې چې له دې مخکې سعودي عربستان په افغانستان کې د ۱۰۰ ښوونځیو د جوړولو لپاره په اسانه شرایطو قرضه منظوره کړې وه. هغه ویلي، د افغانستان دولت له سعودي عربستان څخه وغوښتل چې د ۱۰۰ ښوونځیو پر ځای ٦۰۰ ښوونځي جوړ کړي. مجددي دغه راز زیاته کړې چې د سعودي عربستان حکومت دا غوښتنه منلې او په دې موخه یې ۵۰ میلیونه امریکایي ډالر اوږدمهاله او په اسانو شرایطو قرضه منظور کړې دي. افغان سفیر ویلي چې دغه ښوونځي به د افغانستان په ۱۷ ولایتونو کې د کلیو د پراختیا او د بیارغونې وزارت له خوا جوړشي. د نوموړي په وینا، په دې اړه یې د سعودي عربستان د پراختیایي صندوق، د مالیې وزارت او د پراختیا وزارتونو له استازو سره د ویډیو کنفرانس له لارې تفصیلي خبرې کړې دي.

# د خلیلزاد تر راتگ مخکې؛

## افغان حکومت د خطرناکو طالب زندانیانو د خوشې کولو بهیر پیل کړی دی



۳


یو ځل بیا د حکومت سرې کرښې ماتېږي؟ — ۲ مخ

آیا حکم تبدیل آیاصوفیا به مسجد ظالمانه است؟ — ۲ مخ

دغه عادتونه مو د شخصي او کاري ژوند کیفیت لوړوي — ۳ مخ


## عبدالکریم خرم: امریکا په بشپړه توگه له افغانستان څخه نه وځي

د افغانستان د مخکني ولسمشر حامد کرزي د دفتر رییس او د اطلاعاتو او فرهنگ پخوانی وزیر عبدالکریم خرم وایي، امریکا په بشپړه توگه له افغانستان څخه نه وځي.
ښاغلي خرم له امریکا غږ سره په ځانگړې مرکه کې ویلي چې پر دې باور دی که امریکا په مطلق ډول له افغانستان څخه ووځي، ډېره تکیه به یې پر محلي ملېشو وي.
خرم ادعا زیاته کړې چې امریکا په افغانستان کې ملېشې روزلې او تجهیز کړې دي. که څه هم هغه د دغو ملېشو په اړه ډېر زیات جزیات نه دي ورکړي، خو ویلي یې دي چې دا ملېشې په بېلابېلو نومونو فعالې دي چې د هغه په خبره، یوازې په خوست ولایت کې یې شمېر نږدې ۱۲ زرو ته رسېږي.
د دغه پخواني افغان چارواکي په وینا، لا اوس هم یو شمېر هېوادونه د افغانستان د سولې په چارو کې لاسوهنه کوي. هغه اندېښنه ښودلې، که د سولې مذاکرات پیل نه شي، د افغانستان لپاره به یو بد حالت وي.
ښاغلي خرم زیاته کړې چې د بندیانو د خوشې کېدو په اړه د طالبانو تازه شرط کومه نوې خبره نه ده؛ ځکه په وینا یې چې امریکا د سولې په توافق کې ورسره ژمنه کړې ده.
دا په داسې حال کې ده چې تازه طالبانو ویلي، که افغان حکومت د دوی بندیان خوشې کړي، چمتو دي چې له اختر وروسته مذاکرات پیل کړي. د پخواني ولسمشر د دفتر مشر ښاغلي خُرم په وینا، اوس غوره ده چې بندیان خوشې شي.

## شاهین: یوشمېر خوشې شوي طالب زندانیان د حکومت له لوري بېرته نیول شوي دي



۵ مخ

## بلوڅان: ولسمشر غني په ژمنو عمل نه کوي، ځکه مو خپله لیدنه ورسره تحریم کړه



بلوڅ مشرانو په نیمروز ولایت کې له ولسمشر غني سره له لیدنې ډډه کړې ده. دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر غني د یکشنبې په سهار نیمروز ولایت ته ولاړ او هلته یې له کمال خان بند څخه لیدنه وکړه او د نیمروز ولایت له چارواکو سره یې پر یو لړ مسایلو خبرې وکړې.
خو په یاد ولایت کې د بلوڅانو شورا د یوې اعلامیې په خپرولو سره له ولسمشر غني سره لیدنه تحریم کړې او ویلي یې دي سره له دې چې بلوڅان د افغانستان د افتخاراتو یوه برخه ده، خو افغان حکومت دوی له پامه غورځولي او ولسمشر غني دې قشر ته هېڅ پاملرنه نه ده کړې.
د بلوڅانو شورا په اعلامیه کې راغلي، چې دوی د ولسمشر غني په هېڅ پروگرام کې اشتراک نه کوي او په راتلونکي کې به سیاسي مجالسو کې د بلوڅانو د اشتراک په تړاو تصمیم ونیسي.
خو ولسمشرۍ ماڼۍ وایي چې ولسمشر غني نیمروز ولایت ته د سفر پرمهال د کمال خان بند د جوړېدو له چارو لیدنه کړې او خلکو د دغه بند له جوړېدو هرکلی کړی دی.
له ارگه په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې ولسمشر غني د نیمروز ولایت د عمومي وضعیت ارزونې او د کمال خان بند د درېیم فاز جوړولو چارو د لیدو په موخه یاد ولایت ته سفر وکړ.
سرچینه زیاتوي، په دغه سفر کې چې د ولسمشر د لومړي مرستیال په گډون د کابینې یو شمېر غړو گډون درلود، ولسمشر غني د کمال خان بند د درېیم فاز د جوړولو چارې او پرمختگ له نږدې وکوت.




## دریــځ

# یو ځل بیا د حکومت سرې کرښې ماتېږي؟

د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي افغانستان، پاکستان، قطر او ځینو نورو هېوادونو ته تازه سفرونه پیل کړي دي. له دې سره حکومت هغه پنځوس طالب بندیان هم خوشې کړي چې پخوا یې له خوشې کولو انکار کاوه. د دې تر څنګ حکومت ادعا کوي چې ځیني خوشې شوي طالب بندیان جګړې ته ورګرځېدلي، خو طالبان وايي حکومت پر خوشې شوو طالب بندیانو چاپې اچوي، هوايي بریدونه پرې کوي او نیسي یې. دواړه لوري یو د بل تورونه ردوي.

داسې ښکاري چې د خلیلزاد له سفر سره یو ځل بیا د سولې په تړه درېدلی حالت بدلېږي او ځینې پرمختګونه پکې کېږي. همدا چې خلیلزاد سفر پیل کړ، حکومت دریځ نرم کړ، د بندیانو خوشې کول یې پیل کړل. خلیلزاد هم ویلي چې د بندیانو د خوشې کولو ستونزه به هواروي او د تاوتریخوالي د کمولو لپاره به هڅې کوي. د افغانستان حکومت د شپږو سوو طالب بندیانو د نه خوشې کولو خبره کړې وه چې له دې سره تاوتریخوالی زیات شوی و او د سولې خبرې په تپه درېدلې وې. اوس چې خلیلزاد را روان دی، ښکاري چې یو ځل بیا د حکومت سرې کرښې ماتې شوي او پاتې طالب بندیان به هم خوشې کړي.

دردوونکې دا ده چې حکومت د بندیانو د خوشې کولو په اړه د افغانانو غږ نه اوري، د سولې لپاره دا کار نه کوي، خو چې کله خلیلزاد را روان شي او فشارونه پیل شي، نو بیا دا کار کوي او سرې کرښې یې ماتې شي. د دغو سرو کرښو او د بندیانو د نه خوشې کولو له امله تاوتریخوالی زیات شو او ګڼ افغانان پکې ووژل شول، اوس چې حکومت خپل دریځ بدلوي او بندیان خوشې کوي، نو هغو کورنیو ته به څه ځواب ولري چې په وروستیو تاوتریخوالو کې یې غړي قرباني شوي دي!؟

د سولې په برخه کې د افغانستان د حکومت دریځ نه ثابت دی او نه هم د افغانستان او افغان ولس په ګټه. له همدې امله دا دریځ باید بدل او ثابت شي. په ارګ کې چارواکي نور باید دا فکر پرېږدي چې دوی د خنډونو په جوړولو سره د سولې پروسه ځنډولی او خپل واک غځولی شي. د دوی تمه جوابېدن ته وه، اوس چې جوابېدن هم وايي، طالبان د افغانستان داخلي ستونزه ده او موږ به هلته خپل ځواکونه نه ساتو، نو حکومتي مشران باید واقعیتونه ومني. نور د سولې د مخالفت پر ځای د واقعي سولې لپاره کار او هلې ځلې وکړي. حکومتي مشران باید ومني چې هېڅوک حاضر نه دي چې سوله د دوی د واک د دوام قرباني کړي او له دوی سره ودرېږي. چارواکي باید اوس د سولې ملاتړ وکړي، خنډونه لرې کړي او ټول هغه کارونه وکړي چې سوله بریالۍ کولی شي. د دوی ټوله هڅه باید اوس دا وي چې څه ډول په سوله کې د افغانانو ګټې زیاتولی او د زیانونو مخه نیولی شي. دوی باید اوس پر همدې تمرکز وکړي او د افغانستان د خلکو په څنګ کې د سولې د بریا او د افغانانو د امن، عزت او سرلوړۍ لپاره کار وکړي. له دې پرته سوله کېدونکې ده او دوی به منزوي او لا بدنام شي.

# آیا حکم تبدیل آیاصوفیا به مسجد ظالمانه است؟

مؤمن حکیمی

**بخش اول:**

**مشروعیت تبدیل آیاصوفیا به مسجد:**

بعد از سقوط دولت عثمانی و تأسیس جمهوریت ترکیه، در سلسلهٔ سیکولار سازی دولت ترکیه دروازهٔ این مسجد در سال ۱۹۳۱ بسته شد و در سال ۱۹۳٤ به موزیم تبدیل گردیده و ابواب آن در برابر زایرین گشوده شد.

به تاریخ دهم جولای ۲۰۲۰ محکمهٔ عالی ترکیه فیصلهٔ حکومت اتاترک مبنی بر قرار دادن ایاصوفیا به حیث موزیم را ملغی و آنرا غیر قانونی اعلان کرد. به تعقیب این فیصلهٔ فرمانی از سوی ریاست جمهوری ترکیه صادر گردیده و آیاصوفیا را به حیث مسجد اعلان نموده و برای عبادت باز کردند.

محمد فاتح با اعتماد به این فتوای شرعی آیاصوفیا را به مسجد مبدل ساخت که می گوید: شهری که در نتیجهٔ جنگ و استعمال قوت نظامی فتح می گردد، فاتحین می توانند کلیسای آن دیار را به مساجد مبدل سازند. بنابرین شهری که در نتیجهٔ جنگ فتح می شود، احکامی بر آن تطبیق می گردد که در شریعت اسلامی به فتوحات اسلامی تعلق می گیرد. این فتوا به وسیلهٔ شیخ آق شمس الدین صادر گردیده و اولین خطبهٔ نماز جمعه در آنجا ایراد نمود.

علاوه برین؛ به اساس اسنادی که از آرشیف های عثمانی به دست آمده، محمد فاتح نخست کلیسای آیا صوفیه را از اموال شخصی اش از راهبان رومی خریداری نموده و بعداً آنرا به مسجد مبدل ساخته و برای تمام مسلمانان وقف نمود.

حمزه تکین اکادیمی ترکی در بیانی که در یوتیوب نشر کرده است، تأکید می کند که محمد الفاتح این مکان را خریداری نمود و سند خریداری آن ضمن سجلات عقاری شاروالی انقره موجود است و نسخهٔ دیگر این نسخه در موزیم اسناد استانبول تحت شمارهٔ ۲۱۲۸ نگهداری می شود.

دکتور محمد حرب در کتابش «العثمانیون فی التاریخ و الحضاره» می گوید: «شهری که با استعمال قوت نظامی فتح می گردید، مطابق قانون آن زمان حق فاتح بود که به نیابت از لشکر فاتح تمام ممتلکات شهر را در اختیار خود داشته باشد و نطف کلیسا ها و کنیست ها را به مرور زمان به مساجد جامع مبدل سازد و نصف دیگر آنرا برای ساکنین شهر باقی بماند. ما در وقفیات سلطان محمد فاتح میخوانیم که ایشان کلیسا های جوکالیجا، آیا، لیبس، کیراماتو و الکس را برای بیزانسی ها گذاشت. (حرب، ۱۹۹٤، ۵۳)

پروفیسور دکتور احمد شمشیر گل استاذ تاریخ در دانشگاه مرمره می گوید: «هیچ مانع سیاسی، حقوقی و اداری در برابر این که ایاصوفیا را از موزیم به مسجد مبدل سازد وجود ندارد. زیرا تبدیلی ایاصوفیا از مسجد به موزیم طی یک فیصلهٔ اداری از سوی مجلس وزراء صورت گرفته است.»

مردم ترکیه از سال ها قبل امیدوار بودند که «موزیم آیاصوفیا» دو باره به مسجد مسلمانان تبدیل شود. چنانچه در ۲۷ می سال ۲۰۱۲ هزاران نفر در صحن این مسجد شمع شده و به ادای نماز پرداختند و با این عمل خویش در مقابل قانون منع شعایر دینی در آنجا اعتراض نمودند. این تجمع به مناسبت ۵۵۹ سالگرد پیروزی محمد فاتح صورت گرفته و مردم این شعار را سر دادند که «غل و زنجیر مسجد آیاصوفیا را بگشایید، مسجد اسیر را آزاد سازید» در سال ۲۰۱۳ مجلهٔ اکادیمی ترکی بحثی را توسط مورخ ترکی یوسف هالاجوغلو و دو تن دیگر به نشر رسانیده است و طی آن تأکید کرده اند که ناممکن است آیاصوفیا برای همیش به حیث موزیم باقی بماند، زیرا تبدیلی آن از مسجد به موزیم از طریق غیر قانونی و تزویر در امضای آتاتورک درین خصوص صورت گرفته است.

ولی رجب طیب اردوغان که در آن زمان رئیس وزراء بود، در جواب این معترضین اظهار داشت که تا هنوز درین مورد هیچ تصمیمی ندارد، اما به اثر درخواست های متوالی و پیهم مردم، حکومت مجبور شد بخش عقبی این مبنا را باز کرده و موذنین استنبول را مکلف ساخت تا صدای آذان را از آنجا بلند نمایند».

نویسندهء مقاله می افزاید: «لذا فیصلهٔ که توسط حکومت سیکولار صورت گرفت، مشروعیت قانونی نداشته و پیآمدهای حقوقی ندارد و می افزاید که آیاصوفیا به امر سلطان محمد فاتح به مسجد تبدیل شد و این امر کاملاً موافق با حقوق و احکام اسلامی است که در خصوص سرزمین هایی که صلح را نمی پذیرد و با استعمال قوت نظامی فتح می گردد، وجود دارد.

اسناد تاریخی نشان می دهد که سلطان محمد چندین بار از امپراتور بیزانسی خواست تا شهر را تسلیم نماید؛ اما امپراتور یازدهم بیزانسی این پیشنهادات را نپذیرفته و به جنگ اصرار ورزید و به این ترتیب شهر استانبول به زور شمشیر فتح شد و درین صورت فاتح صلاحیت هر نوع تصرف در ممتلکات آنرا دارد.» (انجي كايا، ۲۰۲۰)

شیخ علامه محمد الحسن ولد الددو درین رابطه می گوید: «سرزمینی که از سوی مسلمانان به استعمال قوت نظامی فتح می شود، چنانچه قسطنطینیه چنین شد، این سرزمین تا روز قیامت وقف مسلمانان می شود، اما آیاصوفیا در اصل نیز کلیسا به معنای متعارف امروزی نبود، بلکه بخشی از کلیسا بود که در آن مراسم تاجپوشی قیصرها امپراتوران روم صورت می گرفت و به این اعتبار مکان مقدس شمرده می شد. زمانی که قسطنطینیه فتح شد، محمد فاتح از باب احسان و حسن معامله آن مکان را خریداری نمود و به جبر و زور آنرا نگرفت، گرچه این حق را داشت.»

**ترک های عثمانی تجاوزگر و اشغالگر نبودند**

مورخ انگلیسی شیبر دکریسي در کتابش "تاریخ العثمانیین الأتراك" کوشیده است، تا چهرهٔ کریهی از تاریخ فتح قسطنطنیه توسط ترک های عثمانی ارائه نماید. به همین هدف سلطان محمد فاتح را با اوصاف قبیح و نادرستی یاد نموده است که از اول تا آخر آن نمایانگر حقد و عداوت با فتوحات اسلامی می باشد. دایره المعارف امریکایی که در سال ۱۹۸۰ طبع شد نیز در لجنزار کینه و حسادت بر ضد اسلام سقوط نموده و می نویسد که سلطان محمد اکثر مسیحیان قسطنطینیه را به بردگی کشانده و در بازار برده ها در شهر ادرنه انتقال داد تا در آنجا به فروش برسند.

ولی حقیقت تاریخی درخشانی که سلطان محمد از خود بیادگار گذاشته است، تمام این ادعاها را تکذیب نموده و نشان می دهد که سلطان محمد با اهل قسطنطینیه از نهایت مهربانی و ترحم کار گرفته به لشکر خود دستور داد که با اسیران جنگی از رفق و مهربانی کار بگیرند. حتی یک تعداد زیاد آنها به خصوص شهزادگان و رجال دین را با پرداخته فدیه از مال شخصی خود آزاد ساخت. در اجتماعی که با اسقف ها داشت آنها را اطمینان داده و ترس شان را دور ساخت و تأکید نمود که عقاید، شریعت و عبادت خانه های خود را در اختیار خواهند داشت و امر نمود که بطریق جدیدی برای خود انتخاب نمایند. آنها اجنادیوس را به حیث بطریق جدید انتخاب نمودند و زمانی که بطریق جدید همراه با سایر اسقف ها در موکب عظیمی به سوی مقر سلطان رفتند، سلطان فاتح به استقبال شان بیرون شده و با احترام و اکرام زیاد با آنها روبرو شد و طعام را همراه با آنها تناول کرد. درین نشست در مورد موضوعات مختلف دینی، سیاسی و اجتماعی با آنها سخن گفت و زمانی که بطریق از حضور سلطان مرخص می شد، دیدگاه و طرز تفکر او در مورد سلطان های ترکی و حتی از عموم مسلمانان کاملاً تغییر یافته بود. و احساس کردند که آنها در برابر سلطان دانشمند و آگاه، صاحب رسالت و پیام و دارای عقیده دینی راسخ، انسانیت رفیع و مردانگی کامل قرار دارند. باشندگان آن سرزمین بیشتر از بطریق شان گرفتار دهشت و تحیر شده بودند، آنها به این گمان بودند که به زودی قتل عام شروع خواهد شد (چنانچه این تجربه را از مهاجمین کاتولیک روم غربی داشتند) اما هنوز چند روزی نگذشته بود که مردم زندگی عادی خود را با اطمینان کامل دوباره آغاز کردند.

گذشت و تسامحی که سلطان محمد فاتح با مسیحیان نشان داد، انگیزهٔ جز التزام صادقانهٔ او به اسلام عظیم و پیروی از پیامبر صلی الله علیه وسلم و خلفای راشدین نداشت.

مواقفی را که سلطان محمد در صفحات تاریخ بیادگار گذاشته است، عمق اخلاص ایشان را به ارزش های انسانی نشان می دهد. شور و اشتیاقی که در راه نشر این ارزش ها داشت، فقط به خاطر کسب رضای الله متعال، از بین بردن هر نوع استبداد و دکتاتوری و اعطای آزادی کامل برای ملت ها به خاطر اختیار عقاید بود. دولت او دولت عدل، قانون، آزادی، کرامت، انسانیت و فتح قلب ها، عمران و آبدی شهر ها، و ایجاد تمدن تحت درفش اسلام بود.

**انصاف فرزندان و بازماندگان سلطان محمد فاتح:**

رئیس جمهور اردوغان در مراسم اعلان برگشت ایاصوفیا به مسجد تأکید کرد که فیصلهٔ محکمهٔ و قیادت ترکی عبارت از تصمیم مردم ترکیه و مربوط به سیادت ترکیه می باشد. او در سخنرانی ای که به مناسبت اعادهٔ آیاصوفیا به مسجد ترتیب یافته بود، اظهار داشت که «فیصلهٔ حکومت ترکیه در سال های سی قرن گذشته نه تنها این که خیانتی به تاریخ بود، بلکه مخالفت صریح با قانون نیز شمرده می شود. زیرا آیاصوفیا در ملکیت دولت قرار ندارد بلکه در ملکیت وقفی مربوط سلطان محمد می باشد. و اضافه کرد: آنها در دههء سی قصد داشتند، این مسجد را برای نمایشگاه تصاویر و قصر تاریخی یلدیز را به حیث قمار خانه و آیاصوفیا را به حیث باشگاه موسیقی جاز استفاده کنند و عملاً بعضی ازین تصامیم را نافذ کردند. اما حق ترکیه است که آیاصوفیا را دو باره به مسجد مبدل سازد و این اقدام مطابق بیاناتی است که در سندهای وقفی تذکر یافته است. او اظهار داشت: ،ایا صوفیا براي همیش تراث انساني باقي خواهد ماند و ابواب آن در برابر شهروندان و سایرین برای همیش باز خواهد بود.»

واقعاً آیاصوفیا با اقدامی که از سوی حکومت سیکولار صورت گرفت، با ظلم بزرگی مواجه شد؛ زیرا این بنای عظیم یک زمانی مقصد نمازگزاران، مجمع علم، حکمت، فرهنگ و معرفت بود و در مدرسهٔ که ار اطراف آن اعمار شده بود، علوم مختلف مانند علم فلک، فقه، ریاضیات، عقاید، تفسیر، زبان، حدیث و سلوک تدریس می شد.

متأسفانه بعد از آن که تمام کشور های عربی تحویل آیاصوفیا را به مسجد، یکی از دستآورد های بزرگ محمد فاتح می دانستند، امروز از بعضی کشور ها ندای خصومت با این اقدام محمد فاتح بلند گردیده و باقدامی را که این سلطان عثمانی کرد، استبداد دینی و سیاسی می خوانند و این نغمه را زمزمه می کنند که عثمانی ها با این کار خود مرتکب ظلم و فشار دینی بر ضد مسیحیان شدند.

با نظرداشت جریان حوادث در فتح قسطنطنیه، مصلحت آن زمان خواستار این بود که این معبد به مسجد مبدل شود. زیرا از یک سو تعداد ساکنان این شهر خیلی اندک بود – چنانچه قبلاً تذکر دادیم- از سوی دیگر تعداد کلیسای های موجود درین شهر خیلی زیاد بود. به خصوص زمانی که در نتیجهٔ ضعف اقتصادی اکثریت باشندگان این منطقه هجرت نمودند. در جانب مقابل تعداد کسانی که همراه با محمد فاتح وارد این شهر شدند، خیلی زیاد بود. علاوه بر آن محمد فاتح سه کلیسای دیگر را به معبد یهودی و چهار دیگر را به مسیحیان ارمنی داد تا شعایر دینی خود را در آن بجا آورند.

اما از ناحیهٔ عسکری و سیاسی باید گفت که این اقدام خیلی ضروری شمرده می شد. زیرا آیاصوفیا مرکز قیادت روحی ارتودوکس و نمادی از قوت سیاسی این امپراتوری به شما می رفت. اگر به حال خود باقی می ماند، قوت های بیزانسی به هر صورتی در پی استراد آن می شدند. لذا قیادت سیاسی عثمانی لازم دانست که این کلیسا را به مسجد مبدل سازد تا زمینه های تحرک بقایای امپراتوری بیزانسی را کاملاً از بین ببرد.

تبدیل کلیسا به مسجد که از سوی محمد فاتح صورت گرفت، در سطح عرف های بین المللی آن زمان کار تازه ای نبود. چنانچه زمانی که مسیحیان اسپانوی اندلس اسلامی را اشغال کردند، تمام مساجد آنجا را بدون استثناء به کلیسا مبدل ساختند حتی زمانی که به شهر غرناطه طی یک پیمان صلح که از سوی پاپ اعظم امضاء شده بود، (و مطابق آن نباید به مساجد تعرض میکردند) وارد شدند، تمام مساجد آنجا را نیزبه کلیسا مبدل ساختند. لذا گفته می توانیم که محمد فاتح به هیچ صورتی عرف های بین المللی آن زمان را نقض نکرده بود، با این تفاوت که صلیبی ها حتی به شهر هایی که در نتیجهٔ صلح وارد شدند تمام مساجد آنرا به کلیسا مبدل ساخته و مسلمانان را مورد شکنجه قرار دادند.

**اما آیا تبدیل کلیسا به مسجد را می توانیم آزار و اذیت دینی حساب کنیم؟**

جواب ساده و مستقیم این سوال اینست که این عملکرد خیلی بعید از آزار و فشار دادن تحت انگیزه های دینی است، به این دلیل که:

اول: اگر محمد فاتح خواستار چنین عملی می بود، تمام کلیسا های قسطنطینیه را به مساجد مبدل می ساخت در حالی که چنین چیزی واقع نشده است. چنانچه مورخین تذکر می دهند در آن زمان فقط چهار کلیسا به مسجد مبدل شده است.

دوم: اگر فشار دینی می بود، محمد فاتح برای طوایف دیگری مانند یهود و ارمنی ها این زمینه را مساعد نمی ساخت تا برای خود عبادت گاه هایی اعمار کنند.

سوم: اگر آزار و اذیت دینی هدف می بود، سلطان عثمانی تمام مسیحیان را مجبور به پذیرش اسلام می ساخت و یا تمام آنها را به خاطر دین شان به قتل می رساند و یا اقلاً آنها را از اقامهٔ شعایر دینی شان باز می داشت، چنانچه در اندلس با مسلمانان صورت گرفت. برعکس زمانی که محمد فاتح به ایاصوفیا داخل شد، تعداد بزرگی از کشیشان، راهبان و عموم مسیحیان آنجا گرد آمدند و حتی کسانی که در زیرزمینی های کلیسا پنهان شده بودند، زمانی که گذشت و مهربانی سلطان را دیدند از زیر زمینی ها بیرون شدده و مسلمان شدند. این نکته را محقق سعودی، دکتور عبدالعزیز العمری در کتابش (الفتوح الإسلامیة عبر العصور) به تفصیل ذکر نموده است.

ولتیر بزرگترین فیلسوف عصر رنسانس (تنویر) در فرانسه در مورد محمد فاتح چنین گواهی می دهد: «آنچه که دال برین است که سلطان محمد الفاتح شخص عاقل و حلیم بود، اینست که مسیحیان را آزاد گذاشت تا شعایر دینی خود را اداء نموده و بطریارک جدیدی انتخاب کنند ...

۳مخ

# آیا حکم تبدیل آیاصوفیا به مسجد ظالمانه است؟...

و زمانی که بطریارک را انتخاب کردند، سلطان الفاتح عصای مخصوص بطریق ها را به وی تسلیم کرده و انگشتر خاصی را بدست او کرد و انقدر مهربانی کرد که بطریق گفت: من از استقبال، تعظیم و عزتی که دیدم واقعاً خجالت می کشم، این چیزی بود که حتی نصارا با ما نمی کرد.»

چهارم: اگر قضیهء فشار و اذیت دینی می بود، سلطان محمد فاتح مشاعر مسیحیان را در وقت تحویل کلیسا به مسجد مراعات نمی کرد. او نشانه ها و آثار بیزانسی را تغییر نداد، بلکه تصاویر دیوار های آنرا به حال خود گذاشته و فقط یک پوشش نازکی از گچ روی آن قرار داد تا تصاویری که با تعالیم اسلامی در توافق نیست، ظاهر نشود. و این تصاویر تا امروز هم موجود است.

**مواقف و عکس العمل ها:**

اقدام محکمه و حکومت ترکیه عکس العمل های متفاوت و حتی متضادی را در پی داشت. اتحادیۀ اروپا با اظهار تأسف از حکومت ترکیه خواست که این اقدام خود را متوقف سازد، وزیر خارجۀ فرانسه –جان ایف لودریان- اظهار داشت که حکومت فرانسه ازین اقدام حکومت ترکیه متأسف است و اشاره نمود که این فیصلۀ محکمۀ ترکیه و تصمیم اردوگان در مورد ایاصوفیا رمزیت عصری و سیکولاریستی ترکیه را زیر سوال می برد. سازمان جهانی تربیت علوم و فرهنگ ملل متحد «یونسکو» تهدید نمود که این موسسه مواقف خویش در رابطه با آیاصوفیا را مورد بازنگری قرار خواهد داد. کلیسای ارتودوکس مسکو اظهار تأسف نمود، اما حکومت روسیه این اقدام را موضوع داخلی ترکیه خواند.

**انقسام در مواقف عربی و اسلامی:**

ملت های مسلمان به صورت عموم از این ا اقدام حکومت ترکیه استقبال نمودند، همچنان کشور مالیزیا، اندونیزیا، پاکستان، ایران، کشور های افریقایی آنراا اقدام نیک توصیف کردند.

**انقسام در جوامع عربی**

مواقف کشور های عربی و انقسامی که در آن وجود دارد، به نظر اکثر مراقبین مستقیماً تحت تأثیر فضای سیاسی و تشنج میان کشور ترکیه و سایر کشور ها قرار گرفته است. و کشور هایی که مخالف نفوذ روز افزون ترکیه در منطقۀ عربی است، بیشتر مواقف خصمانه اتخاذ کردند، درحالیکه بعضی کشورها موقف نرم تری داشتند.

درین میان مواقف دار الافتای مصری و علمای درباری در کشور های خلیجی کاملاً شگفت آور و در عین حال شرم آور است. مفتیان مصری با جعل کاری در روایات تاریخی این عمل سلطان محمد فاتح را اشغال گری و دشمنی با ادیان سماوی توصیف کردند و حتی نماز خواندن در مسجد آیاصوفیا حرام توصیف کرده و آنرا غصب شده نامیدند.

علمای درباری در سعودی و امارات به تأویل و تفسیر حدیثی آغاز کردند که از فتح قسطنطینیه بشارت می داد و با صدها نوع تکلف کوشیدند تا محمد فاتح را مصداق این حدیث ندانند.

اما سوالی که باقی می ماند اینست که این بزرگواران در مورد تخریب مساجد و تحویل آنها به کلیسا ها چرا این حرارت را ندارند؟

امروز مسجد اقصی که مقدس ترین مکان بعد از مکه و مدینه برای مسلمانان است، تحت اشغال یهود قرار دارد و حفریاتی که تحت آن صورت میگیرد، حتی موجودیت این مسجد را تهدید می کند. مسجد عمروبن العاص که دومین مسجد کشور مصر بدست مسلمانان اعمار گردید، در سال ٦٤٢ زمان استیلای ملک بیت المقدس «جان دی یین» به کلیسا مبدل گردید، اما زمانی که صلیبی ها از آن کشور خارج شدند، دوباره به مسجد مبدل گردید. زمانی که شاه فرانسه «لویس نهم» بر دمیاط در سال ۱۲٤۹ مسلط گردید امر نمود تا این مسجد را به کلیسا مبدل سازند و این حالت تا خروج فرانسوی ها درسال ۱۸۰۱ باقی ماند.

مسجد کشتاوه در الجزایر که در سال ۱۷۹۷ در عهد عثمانی ها اعمار گردیده بود، در اثنای اشغال الجزایر توسط فرانسوی ها بدست «دوروفیگو» به کلیسا مبدل شد. تا آنکه در سال ۱۹٦۲ بعد از استقلال الجزایر دوباره به مسجد مبدل شد.

مسجد الحمراء در اسپانیای امروزی توسط ملک ابوعبدالله محمد اول بن الاحمر، در نیمۀ دوم قرن دهم میلادی اعمار گردید. این مسجد از زیباترین آثار اسلامی در اروپا به شمار می رود. گرچه بعضی قسمت های آن در سال ۱۲۳٦ م در اثنای سقوط اندلس ویران گردید، اما بخش باقی ماندۀ آن به کلیسا مبدل گردید که امروز به نام کلیسای «سانت ماریا» یاد می شود و در جنوب مادرید موقعیت دارد.

مسجد بزرگ قرطبه به امر ابو عبدالله الاول بن الاحمر در سال ۷٥٤ اعمار گردید و بدست امیر عبدالرحمان سوم افتتاح گردید. این مسجد گنجایش ۹۸۷ نماز گزار را داشت. بعد از سقوط اندلس این مسجد به کلیسای «مریم العذراء» مبدل گردید.

مسجد باب المردوم در منطقۀ طلیطله اسپانیای امروز در سال ۹۹۹ اعمار گردید و در اثنای استیلای الفونسو ششم پادشاه قشتاله برین شهر در سال ۱۰۸٥ به کلیسا مبدل شده و به نام کلیسای «نورمسیح» نامیده شد. بعداً به محل سیاحتی مبدل گردیده و به نام مسجد نورالمسیح مشهور گردید.

مسجد بزرگ اشبیلیه که در عهد حکومت ابویوسف یعقوب افتتاح گردید و تا سقوط اشبیلیه بدست فرناندو دوم باقی ماند و بعداً به نام «جیرالدا بسیفیبا» به کلیسا مبدل شد.

اگر بخواهیم تمام مساجدی که ویران شده و یا به کلیسا و حتی قمار خانه ها و محل فسق و فجور مبدل شده، یاد آوری کنیم، لست آن خیلی طولانی خواهد شد. تنها در یونان و بعضی کشور های اطراف آن حدود ۳۲۲ مسجد نابود شده است.

اب امانویل مسلم شاعر مسیحی فلسطینی از مساجد زیر به عنوان مثال یاد آوری می نماید: مسجد خالصه در صفد را به موزیم، مسجد الاحمر را به محل ساز و سرود و در داخل آن اطاق خاصی برای شراب خوری، در منطقۀ قیساریه مسجد آنرا به شراب خانه و ریستورانت، مسجد الطاهریه در طبریه را به موزیم و مسجد بئر السبع را به موزیم، مسجد العوینات را به طویلۀ حیوانات، مسجد القلعه را به موزیم، مسجد ابوهریره در قریۀ یبنا به کنیسۀ مسجد العمری در منطقۀ الخلیل را به طبیلهء حیوانات، مسجد العباسیه در رمله به کنیست یهودی ... مبدل ساختند. و در اخیر می گوید: به تمام مسیحیان می گویم: باید از اردگان شکر گذاری نمایید، آیاصوفیا را که به موزیم مبدل شده بود، اکنون به محل ذکر و عبادت مبدل ساخته است و این کار او به معنای تکریم و تعظیم این محل مقدس است.

این مقاله را با یک سوال به پایان می بریم که: کسانی که این اقدام محکمۀ ترکیه را ظالمانه می خوانند، آیا این جرئت را در خود می بینند که عملکرد یهود در بیت المقدس را نقد کنند؟ آیا از اروپایی ها خواسته می توانند که صد ها مسجد مسلمانان را که به کلیسا و حتی محل قمار و شراب مبدل ساخته اند، دوباره به اصل آن برگردانند؟

**ادامه دارد...**

# د خلیلزاد تر راتگ مخکې؛

## افغان حکومت د خطرناکو طالب زندانیانو د خوشي کولو بهیر پیل کړی دی



د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي وو چې پر حکومت او طالبانو د فشار راوستلو لپاره زلمي خلیلزاد نوی سفر پیل کړی دی، چې د هغه تر را رسېدو مخکې افغان حکومت د طالبانو د خطرناکو زندانیانو د خوشي کولو پروسه هم پیل کړې ده. ویل کېږي چې حکومت تازه د خطرناکو بندیانو له ډلې پنځوس یې خوشي کړي دي او طالب سرچینو هم دغه راپور تایید کړی دی. بلخوا طالبان بیا ادعا کوي چې افغان حکومت د خوشي شوو طالبانو پر کورونو چاپې وهي او دوی بېرته نیسي، خو حکومتي چارواکي بیا وایي چې ډېری زندانیان تر خوشي کېدو وروسته بېرته د جګړې ډګر ته ستانه شوي چې ځینې یې آن د جګړې پرمهال نیول شوي دي.

میاشتې کېږي چې د زندانیانو د خلاصون پر سر د اختلاف له امله بین الافغاني خبرې ځنډېدلې دي. افغان حکومت ویلي وو چې د طالبانو څه باندې څلور زره بندیان یې خوشي کړي دي، خو شپږ سوه بندیان یې ځکه نه خوشي کوي چې پر دوی حق العبدي دی. طالبانو بیا ویلي وو چې افغان حکومت په لوی لاس د زندانیانو په خوشي کولو کې ځنډونه جوړوي او دا مسئله به ښه پایله ونه لري. بلخوا امریکا هم له دې مسئلې ستړې شوې او په ځلونو یې له طالبانو او افغان حکومت غوښتي چې د زندانیانو د خلاصون لړۍ چټکه کړي.

اوس تازه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد په سفر تللی دی. د دغه سفر تر ټولو مهمه مسئله پر طالبانو او افغان حکومت فشار راوړل دي، څو دوی د بندیانو د خلاصون لپاره اقدام وکړي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په اعلامیه کې راغلي: ((خلیلزاد به دوحې او کابل ته ځي څو پر دواړو لورو فشار راولي چې د بندیانو د خوشي کولو لپاره اقدام وکړي او د بین الافغاني خبرو له لار کې شته خنډونه له منځه یوسي)).

خو د خلیلزاد تر را رسېدو مخکې افغان حکوت د طالبانو د خطرناکو بندیانو د خوشي کولو لړۍ پیل کړې ده. د زندانیانو د خلاصون لپاره د طالبانو له لوري موظف پلاوي ویلي چې افغان حکومت ورمه ورځ ناوخته پنځوس طالب بندیان خوشي کړي دي. د دوی په خبره، دا هغه کسان وو چې افغان حکومت خطرناک بللي وو او په وینا یې، د دوی دوسیې پېچلې دي او حق العبد ورباندې دی، خو اوس د دې هر څه پر خلاف افغان حکومت د دوی د خوشي کولو پرېکړه کړې ده. دا چې نور بندیان به هم خوشي کېږي کنه، حکومت یې په اړه څه نه دي ویلي، خو طالبان ټینګار کوي چې د لېست له مخې باید د دوی پنځه زره بندیان خوشي شي.

بلخوا طالبان بیا وایي چې حکومت د زندانیانو د خلاصون په برخه کې خنډونه جوړوي. د وسله والو طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین پرون د افغان حکومت د وروستیو اقداماتو په غبرګون کې ویلي، حکومتي ځواکونه پر هغو کسانو چاپې وهي چې تازه د حکومت له زندان خوشي شوي دي. د ده په خبره، حکومتي ځواکونه یاد کسان بېرته له ځان سره بیایي چې په دې اړه دوی د ځینو مواردو معلومات هم له ځان سره لري. سهیل شاهین وایي، د حکومت دغه ډول کړنې د بین الافغاني خبرو لپاره خنډ جوړوي او د سولې پروسه له ستونزو سره مخ کوي. شاهین وایي: ((حکومت پر خوشي شوو طالبانو چاپې وهي، دوی ته کمین نیسي، له ځان سره یې بیایي چې دا به خطرناکې پایلې ولري)).

بلخوا طالب سرچینې بیا وایي، د دې تمه لري چې خلیلزاد په دا ځل سفر کې ټول شته خنډونه له منځه یوسي، بین الافغاني خبرو ته لار هواره کړي او د زندانیانو پر خوشي کولو جوړ شوی اختلاف ختم کړي.

خلیلزاد به د دې مواردو تر څنګ په دې سفر کې له پاکستان، ناروې او بلغاریا د لیدنې پرمهال د تاوتریخوالي پر کموالي او د بندیانو تبادلې وروستي پړاو پر بشپړېدو ټینګار وکړي.

# په امریکا کې د لاریونو تازه څپه؛

## د امریکا په ګڼو ښارونو کې یوځل بیا زرګونه کسان د نژادي توپیر پر ضد لارو او سړکونو ته راوتلي

د امریکا په یو شمېر ښارونو کې یوځل بیا زرګونه کسان د نژادي توپیر پر ضد او د عدالت غوښتنې لپاره لارو او سړکونو ته راوتلي او پراخ لاریونونه یې پیل کړي دي.

دا په داسې حال کې ده چې د اورېګن ایالت د پورټلنډ په ښار کې له نږدې دوو میاشتو راهیسې دغه لاریونونه روان وو چې اوس یې بیا زور اخیستی دی.

دغه لاریونونه د مینیسوتا ایالت د میناپولیس په ښار کې د پولیسو په توقیف کې د یوه تور پوستي امریکایي جورج فلوېډ له مړینې وروسته پیل شوي دي. که څه هم دا پېښه شاوخوا دوې میاشتې مخکې وشوه او لاریونوال یې عمدي پېښه ګڼي، خو تازه یې د امریکا په ګوټ ګوټ کې د لاریونونو نوې څپې ته لاره پرانیستې ده.

په همدې حال کې د ټرمپ ادارې پورټلنډ ته فدرال افسران استولي چې حالت کابو شي، خو لاریونوال په دغه کار نور هم پارېدلي او د فدرال د افسرانو د موجودیت پر خلاف هم اعتراض کوي.

د امریکا په بل ښار سیتل کې پولیسو د ورم ماښام د مظاهره کوونکو د خورولو لپاره اوښکې بهوونکی ګاز او ربړي مرمۍ کارولې دي.

پولیسو دغه ویلي چې ۴۵ لاریونوال یې نیولي هم دي. دغه راز چارواکي زیاتوي چې څه باندې ۲۰ پولیس افسران هم په دغو لاریونونو کې ژوبل شوي دي.

په ورته وخت کې د ټکزاس د استن په ښار کې یو چا د تور پوستو امریکایانو د حقونو د ملاتړو پر لاریون ډزې کړې او یو کس یې وژلی دی. د استن ښاروال سټیف ادلر په یوې اعلامیې کې ویلي: «زه پوهېږم چې مظاهرې خطرناکې دي او یو کس وژل شوی دی. زه په دې پېښې له زړه خپه یم.»

د کنټکي په لویسویل کې بیا یو شمېر وسله والو د پولیسو له لوري د یوې تورپوستې بریونا ټایلر د وژلو پر ضد لاریونونه کړي دي. د دغې ښځې مېره وایي، پر پولیسو یې د غلو ګمان کړی و او ډز یې پرې کړی دی. پولیس د دروازې له ټکولو پرته کور ته ننوتلي او ښځه یې وژلې ده.

چارواکو په دغې قضیې کې دخیل یو پولیس له دندې شړلی، خو په قضیه کې دخیل نور پولیس نه دي تورن شوي، خو لاریونوال وایي چې دا پېښه باید په شفاف ډول وڅېړل شي. په دغو لاریونونو کې یو شمېر اعتراض کوونکي هم هغه وخت ژوبل شول چې د یو مظاهره کوونکي له ټوپک څخه په ناپامۍ ډزې وشوې.

## د کتـــاب خبـري


# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

- لیکوال: رابرټ کیوساکي
- ژباړن: علي‌الله متوکل

**دریيمه برخه**

**ستاسو راتلونکی اوس پیلېږي!**

**نولسم څپرکی**




**۱۹. څه شي اړین دي؟**

د یوې بریالۍ شبکه یي بازارموندنې د تجارت لپاره څه شی اړین دي. راځئ لومړی به و گورو چې څه ته اړتیا ده.

MBA او د تجارت کاري تجربې ته اړتیا نه لرئ

د مخکینیو څپرکو د«څو برابره کولو» خبره در په یاد کړئ. په شبکه یي بازارموندنه کې هغه ستراتیژي تر ټولو غوره ده چې د څو برابره کېدو وړ وي. شبکه یي بازارموندنه له تجارانو سره هغه څه کوي چې هنري فورډ د موټرو له صنعت سره وکړل. یانې ستاسو د تولیداتو د بهیر په کرارولو تاسو ته د هغه د برخو د پراخ تولید چانس درکوي.

جان: د شبکه یي بازارموندنې تجارت د یوه مسلکي کس په لاس جوړ او بازار ته وړاندې شوي څه نه دي، بلکې دا یو ډله ییز ساده کار دی چې د سلگونو زره لاسونو په مرسته جوړ شوی دی.

د غوره پلورنکي کېدو اړتیا نشته

یو ځل بیا وایم، هغه خلک چې له شبکه یي بازارموندنې څخه بهر دي، د یوه ناسم پوهاوي او تېروتنې ښکار دي. دوی وایي، په شبکه یي بازارموندنه کې د بریالي کېدو لپاره باید له ازله ښه پلورنکی واوسې.

دا بلکل غلط نظر دی. که رښتیا ووایم، د شبکه یي بازارموندنې په اړه داسې فکر لرل تاسو ته زیان لري. ولې؟ ځکه هغه کسان چې له ازله ښه پلورونکي وي، یانې د پلور له غوره مهارتونو سره نړۍ ته راغلي وي، هغوی ځان څو برابره نشي کولای.

جان: یوه یادونه کوم. د بازارموندنې شبکې په اصل کې د پلور تجارت نه دی، بلکې دا د ښوونې، ټیم جوړولو او مشرۍ تجارت دی. د ډېرو تولیداتو پلورل ستاسو دنده نه ده او نورو خلکو ته د زیاتو تولیداتو پلور ور زده کول هم ستاسو دنده نه ده.

ستاسو دنده د خلکو مشري، روزنه او چمتو کول دي. دا د شبکه یي بازارموندنې لومړنی او اړین اصل دی.

رابرټ: د توکو پلور اړین نه دی، د شبکې جوړول اړین دي.

جان: بلکل همداسې ده.

**د دندې پرېښودو اړتیا نشته**

په حقیقت کې د شبکه یي بازارموندنې د پیلولو لپاره د دندې پرېښودو ته هېڅ اړتیا نشته.

دې خبرې ته مو پام وي چې خپل تجارت رامنځته کول د نوې دندې د پیلولو په څېر نه دی چې له لومړۍ ورځې تاسو ته میاشتنۍ تنخوا شروع شي. د تجارتي شبکې جوړول وخت غواړي، نو تاسو چې اوس کوم ځای په تنخوا دنده کوئ، هغه دنده مو مه پرېږدئ.

جان: دنده باید یوازې د مالي دلیلونو په خاطر ټینگه نه کړئ. یانې که څه هم له مالي اړخه د دندې پرېښودلو توان ولرئ، بیا مو هم دنده مه پرېږدئ. ځکه زیات نوي شبکه جوړوونکي د همکارانو د اړیکو له لارې شبکه جوړوي.

زیات شبکه یي بازارموندونکي دا تجارت په خپل اضافي وخت کې کوي. د Direct Sales Association د (۲۰۰۸م) یوه پلټنه ښیي چې د شبکه یي بازارموندنې په اتو کسانو کې یوازې یو کس په اونۍ کې شل ساعته یا تر دې یو څو ساعته زیات دې تجارت ته ورکړي وو.

شتمنېدو او د کور په گروۍ ورکولو ته اړتیا نشته

د بازارموندنې زیاتې شبکې په پېل کې تر ۵۰۰ ډالرو زیاتو پیسو ته اړتیا نه لري. تېروتنه مه کوئ. ستا سو اصلي سرمایه ستاسو ستړیا، خولې تویول او کاري استقامت دی. په شبکه یي بازارموندنه کې لویه پانگونه ستاسو خپل ځان لگول دي. د دې تجارت د پیلولو لپاره د پیسو بنډل ته اړتیا نشته، بلکې ستاسو وخت، تمرکز او ټینگار ته سخته اړتیا ده.

جان: که څه هم ستاسو سرمایه لږه ده؛ خو د نشت په مانا نه ده. دا په خپل ذات کې یو تجارت دی او د تجارت په توگه مخ ته بېولو ته یې اړ یئ، نو په همدې خاطر به میاشتني لگښتونه ولري.

میاشتني لگښتونه به مو کم وي. یوازې د تولیداتو د نمونو د لېږد را لېږد، د اړیکو نیونې او د توکو ننداري ته وړاندې کول (لکه ویبپاڼې، CD او نور) همدارنگه د تجارت د ودې او ځانې پرمختگ لپاره ځینو لگښتونو ته اړتیا ده. نو تاسو د تجارت د پیل لپاره زیاتو پیسو ته اړتیا نه لرئ؛ خو د میاشتنیو کوچنیو لگښتونو لپاره یوې مناسبې بودجې ته اړتیا لرئ.

د خبرو نابغه‌توب او په حسابونو کې تکړه‌توب ته اړتیا نشته

تاسو ډېرې لېوالتیا ته چې له ټینگ عزم څخه سرچینه اخلي، اړتیا لرئ. زما ملگری ډونالډ ټرمپ وایي:((له خپل کار سره مینه ولرئ. له زیاتې مینې او لېوالتیا پرته لویه سخته ده. د یوه متشبث په توگه، که له پوره زغم او قوت څخه برخمن نه وئ، نو له سختو حالاتو سره مخامخ کېدای شئ.))

**دوام لري...**

# نیمروز

حشمت الله نوري

نیمروز د افغانستان سوېل- لوېدیځ لوري ته پروت لوی سرحدي ولایت دی. نیمروز لوېدیځ ته له ایران او سوېل ته له پاکستان سره اوږده پوله لري، ختیځ ته یې هلمند او شمال ته یې د فراه ولایتونه موقعیت لري.

د زرنج ښار د دې ولایت مرکز دی، چې د ولسوالیو په نسبت وړه سیمه ده .

د وروستیو شمېرو له مخې، د دې ولایت نفوس ۱٤۹۰۰۰ زره تنه اټکل شوی او مساحت یې ٤۱۰۰۵ کیلومتر مربع دی. هوا او اقلیم یې په ژمي کې معتدل او په دوبي کې گرم وي .

د دې ولایت ډېری اوسېدونکي بلوڅان دي، خو پښتانه، تاجک او ازبک هم پکې مېشت دي.

د غیر رسمي سرچینو له مخې، د دې ولایت ٦۱ سلنه بلوڅان، ۲۷ سلنه پښتانه، تاجک او ازبک یې لس سلنه تشکیلوي. د دې ترڅنگ په دې ولایت کې یو شمېر کوچیان هم مېشت دي.

په دې ولایت کې د هلمند سیند تر څنگ، ځینې نور سیندونه هم بهېږي، د پراخو کرنیزو ځمکو تر څنگ د مارگو په نامه لویه دښته هم لري. د گودذرې هامون هم په دې ولایت کې دی. د زرنج تر څنگ د چخانسور او چهاربرجک هم د دې ولایت له لویو ښارونو څخه دي.

د نیمروز مساحت زیات، خو نفوس یې کم دی، ډېری برخه یې صحراگانې او دښتې دي، یوازې په هغو سیمو کې یې خلک ډېر ژوند کوي، چې د هلمند سیند پرې تېر شوی دی .

نیمروز ولایت د مرکز زرنج ښار په گډون شپږ اداري واحدونه دلارام، گنگ، چهاربرجک، چخانسور او خاشرود لري.

نیمروز یو سرحدي ولایت دی، ایران سره گډه پوله لري او د دې ولایت ډېری اقتصاد له ایران سره پر سوداگریزو چارو ولاړ دی. دغه راز له دې لارې د نشه یي توکو او ایران ته د انسانانو قاچاق هم اقتصادي اړخونه لري. دغه راز ځینې نور خلک په قانوني توگه هم د نیمروز له لارې ایران ته تگ راتگ او سوداگریزې چارې پرمخ بیایي.

د افغانستان سوداگر له دې لارې له ایران څخه تېل او نور توکي صادروي او بیا د نیمروز ولایت ترڅنگ د افغانستان نورو ولایتونو ته یې هم لېږدوي.

په زرنج ښار کې د معدني اوبو او پلاستیک جوړولو فابریکې د دې ولایت په اقتصاد کې مهم رول لوبولی دی، دغه راز یو شمېر خلک د سیمنټو د بوریو د بسته بندۍ فابریکه او د موبلایلو په فابریکو کې هم پر کارونو بوخت دي.


د دې ولایت خلک پر مالدارۍ هم بوخت دي او له حیواني محصولاتو څخه ډېر ښه عاید لاسته راوړي.

په نیمروز ولایت کې د هلمند سیند بهېږي او بیا له دې ولایت څخه ایران ته ځي، د دې ترڅنگ په دې ولایت کې د خاشرود سیند هم بهېږي .

د نیمروز ولایت تر ټولو لوی بند د کمال خان بند دی، چې په چاربرجک ولسوالۍ کې موقعیت لري او اوس یې د جوړېدو کارونه روان دي. د دې بند له جوړېدو سره به د دې ولایت ۸۰ زره هکتاره کرنیزې ځمکې خړوبې شي او ۹ میگاواټه برېښنا به هم تولید کړي. دلته هم خلک پر کرنې بوخت دي او ډېر یې په دې پروژه کې کار کوي. د خاشرود پر سیند د ماري بند هم جوړ شوی دی.

محمد اسین مایار د کمال خان بند په اړه داسې لیکي:

دا بند لومړی په ۱۱مه پېړۍ کې د یو ناثبت شوي، پوه مشر لخوا د پخو خښتو او چونې له مصالې جوړ شو، چې د سلگونو کلونو لپاره یې د چخانسور حاصلخیزه ځمکې کانالونو ته اوبه ورکولې. د ۱۳مې پېړۍ په پای کې گوډ تیمور، د نیمروز د ځپلو لپاره د کمال خان بند ونړاوه، چې له هغې وروسته دا سیمه په وچه دښته بدله شوه.



وروسته داوودخان په خپل ۵ کلن ماسټر پلان کې تصمیم ونیو چې د کمال خان بند جوړ کړي. د دې کار لپاره د اسیا پراختیایي بانک او یوې نړیوالې کمپنۍ د امکان سنجۍ مطالعات تر سره کړل چې په ترڅ کې د کمال خان بند جوړولو تر څنگ د قلعه افضل بند، د اوبولگونې دوه نور کوچني بندونو (رود سیستان او سیخسار) او دوو کانالونو سپارښتنه وکړه. دې کار له پولې اوښتونکو اوبو په اړه حساسیت رامنځ ته کړ. د امکان سنجۍ مطالعاتو یو د خاورې بند (کمال خان) چې ٦۷۰۰ متره اوږد او ۱۵ متره لوړ انحرافي بند سپارښتنه وکړه څو د قلعه افضل بند ته اوبه واړوي. له همدې کبله د کمال خان بند د اوبو زېرمې کولو لپاره نه و پلان شوی؛ بلکې یو انحرافي بند و چې اوبه یې قلعه افضل بند ته اړولې. د داوود د رژیم له نسکورېدو وروسته، تر ۲۰۱۱ ز کال پورې د دې پروژې چارې هېرې شوې. که څه هم کمونیستي رژیم ښاغلی موسی شفیق د دې لپاره شهید کړ چې د هلمند د اوبو معاهده یې لاسلیک کړې وه، خو دوی خپله هم د اوبو د مدیریت په اړه هېڅ ونه کړل.

په ۲۰۱۱ ز کال کې د اوبو او برېښنا وزارت له یوه تاجکي شرکت سره قرارداد لاسلیک کړ څو د کمال خان بند لومړنۍ چارې پیل کړي. په دې وخت د بندونو په ډیزاین کې تغیرات راوستل شوي وو. یانې اوس یوازې د کمال خان بند جوړېږي او د قلعه افضل او نورو ملحقاتو درک یې نشته. همدا علت و چې د اوبو او انرژۍ وزارت ۳ کاله مخکې اعلان وکړ چې د کمال خان نوي بند خړوبولو سیمه له ۱٦۷۰۰۰ هکتاره څخه ۸۴۰۰۰ ته ټیټه شوې. د ۹ میگاواټه برېښنا تولید ترڅنگ ۵۲ میلیون مترمکعبه اوبه به هم زېرمه کړي. وزارت د اوبو د لږوالي علت اعلان کړ، خو اصلي خبره په ډیزاین بدلولو کې ده. پوښتنه دا ده چې دا کار د بودیجې د لږوالي له امله وشو که د ایران د مداخلو پایله وه؟! ځکه د کرنیزې ځمکې راټیټول د اوبو له مصرف څخه مخنیوی کوي او پرېږدي چې اوبه ایران ته وبهېږي. که څه هم ایران د دومره کرنیزې ځمکې په راټیټولو سره نه دی خوشحاله او بند ته په امنیتي ستونزو جوړولو کې لاس لري. (ما په ۲۰۱۷ کال کې هم غږ پورته کړ، خو ځینو ویل چې زه غلط یم).

په هر صورت بند په ۳ مرحلو کې جوړېږي: لومړی مرحله یې د سیند یوې خواته د ٦-۱۱ متره لوړ د ۳۴۰۰ متره اوږد دیوال جوړول دي. دویمه مرحله یې په همدې کچه د سیند بلې خوا ته دیوال جوړول دي او دریيمه مرحله یې د بند اصلي برخه چې د بند او توربینونو د نصب چارې یې په ۴۲ میاشتو کې پلان شوې دي. اوس یې نېږدې ۳٦ میاشتې تېرې شوې او باید کارونه یې په نیم یا یو کال کې بشپړ شي.

د ایران بله جالبه مداخله دا وه چې په کابل د اقتصاد وزیر عبدالستار مراد (د جمعیت غړی) غوښتل د بند جوړولو چارې وروسته کړي. دې ښاغلي ویل چې جوړونکی ترکی شرکت Bankrupt شوی، خو د ترکیې سفارت مکتوب دا خبره رد کړه او د تدارکاتو څېړونو دا کار د بند وروسته کولو هڅه وبلله. (په دې اړه لیکنې د کابل په ورځپاڼو کې شته).

د کمال خان بند، ایران ته د اوښتونکو اوبو په کنټرول کې ډېر ارزښت لري او مرسته به وکړي چې ایران ته د تړون مطابق اوبه ورکړل شي. له همدې کبله ایران له دې بند اندېښنه لري، ځکه دوی خپلې ځمکې پراخې کړې او اړتیا یې لوړه شوې. همدارنگه د هامون له پورتنۍ برخې څخه هر کال ۲٦ میلیون مترمکعبه اوبه د نللیکې په مرسته زاهدان ښار ته چې له پاکستان سره پر پوله پروت دی، لېږدوي. خو د هامون د وچېدو پړه پر افغانستان ور اچوي. که ایران رښتیا د چاپېریال ساتنې ته ژمن وي، لازمه ده چې له دې حوزې بل ښار ته د اوبو لېږد ودروي څو هامون وچ نشي. افغان لوري ته پکار ده چې د اوبو اړوند بحثونو کې دې ټکو ته پام وکړي.

که پر ایران اوبه کنټرول شي اړ به شي چې له تړون ډېرې اوبه له افغانستان څخه په پیسو وپیري، چې دا کار به هېواد ته اقتصادي گټه هم ورسوي. همدارنگه که ایران په افغانستان کې د اوبو زېرمې په خپل مصرف جوړې کړي، د اوبو بیه به في مترمکعب د ۵۰ سنټو شاوخوا وي، خو که افغانستان دا کار وکړي، بیا به د اوبو بیه ورته تر ۱ ډالر لوړه کېدای شي.

نیمروز د پراخو د ښتو تر څنگ کرنیزې ځمکې هم لري، که څه هم د هلمند سیند له نیمروز ولایت څخه تېرېږي، خو کرنیزو ځمکو ته یې کافي اوبه نه رسېږي، خو بیا هم د دې ولایت ځینې خلک پر کرنه بوخت دي.

د نیمروز د کرنې ریاست د معلوماتو له مخې، په دې ولایت کې غنم، جوار، کوکنار، خربوزې او هندوانې ډېرې کرل کېږي.

د دې ولایت په چاربرجک ولسوالۍ کې د کمال خان بند له جوړېدو سره به د دې ولایت ۸۰ زره هکتاره کرنیزې ځمکې خړوبې شي او کرنه به په دې ولایت کې ډېر پرمختگ وکړي.

دغه راز د دې ولایت ځینې خلک پر مالدارۍ هم بوخت دي، مالداران، غویان، پسونه او اوښان ساتي.

په دې ولایت کې کلتوري او فرهنگي فعالیتونه هم شته، که څه هم په نیمروز کې کومه ورځپاڼه نشته، خو نورې رسنۍ فعالیت کوي، ملي راډیو- ټلویزیون دلته خپرونې لري، د دې ترڅنگ د ځینو نورو راډیوگانو خپرونې هم اورېدل کېږي.

په دې ولایت کې د میلاد النبي، نوی کال او د ځینو نورو مراسمو پر مهال مشاعرې او ادبي غونډې تر سره کېږي.

د دې ولایت د پوهنې ریاست د معلوماتوله مخې، د نیمروز په څه باندې ۲۵۰ ښوونځیو کې ۸٦ زره زده کوونکي پر زده کړو بوخت دي، چې ٤۰ سلنه یې نجونې تشکیلوي.

په دې ولایت کې د ښوونځیو تر څنگ د ولایت په مرکز زرنج او ځینو ولسوالیو کې ۵ د کرنې او تخنیکي لېسې هم فعالیت کوي.

دغه راز ۲۰ خصوصي دیني مدرسې هم شته چې پکې نجونې او هلکان زده کړې کوي.

په دې ولایت کې د دولتي پوهنتون ترڅنگ خصوصي پوهنتونونه هم په بېلابېلو پوهنځیو کې فعالیت کوي.

وکیل دوست محمد خان، حاجي علیم خان شورو، حاجي رییس غلام رسول ایوبي، ډاکټر غلام محمد لعلزاد بلوچ، فرخي سیستاني، ابو داوود سجستاني، کاندیدای اکادمیسن محمد اعظم سیستاني، عبدالبصیر بلوچ، استاد غلام دستگیري (پیام)، عبدالغفور مراد، عبدالرحمن پهوال او عبدالکریم براهوي یې نوموتې څېرې دي.

د دې ولایت د ورزشي امر د معلوماتو له مخې، په دې ولایت کې د بېلابېلو لوبو څه باندې ۹۰ لوبډلې فعالیت کوي او درې زره لوبغاړي پکې برخه اخلي.

په دې ولایت کې فوټبال، والیبال، وزن پورته کول، تکواندو، کانگو، کاراته او فوټسال ډېر لوبغاړي لري. د دې ولایت د وزن پورته کولو لوبغاړو درې ځلې نړیوال مډال تر لاسه کړی دی.

همیانی

# دغه عادتونه مو د شخصي او کاري ژوند کیفیت لوړوي

ژباړه: حمیدالله حمیدي

که کار پنځوونکی یا د یوې اداري مدیر یاست او یا هم غواړی نوی کار پیل کړی، نو ښه ده چې ځینې داسې عادتونه خپل کړئ چې پر خپلو تولیدوونکو توکو او هغو کسانو چې له تاسو سره کار کوي، مثبت اغېز ولري. له دې سره په څنگ کې هغه څه ته چې غواړی ورسېږی، نو باید له یوې منظمې او مخکې ازمویل شوې تگلارې گټه واخلئ او گام پر گام مخ ته ولاړ شئ.

په دې لیکنه کې ۱۰ هغو عادتونو ته اشاره شوې ده چې په شخصي او کاري ژوند کې مو د مثبت بدلون لامل کېږي.

کله مې چې د لومړي ځل لپاره د یوه کار پنځوونکي په توگه کاروبار پیل کړ، له ځانه مې پوښتنه وکړه، څه شی د دې لامل شول چې دې ځای ته را ورسېدم؟ اعتبار، پیسې او د نورو ستاینه او هڅونه هغه څه وو، چې زه یې دې ځای ته را ورسولم. د تېر عمر په اړه مې چې فکر کوم، زه ډېر نېکمرغه انسان وم، ځکه ما له ډېرو ارزښتناکو کسانو سره اړیکه درلوده، دوه اړخیزې اړیکې مې ځکه گټورې وې چې د دواړو خواوو په گټه وې، نه یوازې زما په گټه؛ ځکه یو انسان په تېره بیا مسلمان باید دا ځانگړنه ولري، هغه څه چې د ځان لپاره خوښوي باید د نورو لپاره یې هم خوښ کړي او گټه یې ورته ورسېږي. دې هر څه ته رسېدل ناڅاپي نه وو، بلکې د ور رسېدو لپاره مې تل د زده کړو هڅه هم کړې ده.

۱- د نورو خبرې واورئ او د امکان په صورت کې ورسره مرسته وکړئ

د نورو خبرو ته غوږ نیول او ورته پام کول په کاروبار کې ډېر اړین دي. کېدای شي د مقابل کس خبرې تاسو ته ارزښت ونه لري او یا هم ستاسو په کاري ژوند کې ډېرې مهمې نه وي. په رسمي مجالسو کې ډېرې خبرې په دې جملې پای ته رسېږي: «زه څه خدمت درته کولی شم؟» په دې جمله کې ډېر لوی ځواک پروت دی او همدا یوه جمله کولی شي له مقابل کس سره ستاسو کاري اړیکې قوي او ژورې کړي.

۲- د مقابل کس اړینې خبرې یادداشت کړئ

کله چې تاسو د مقابل کس سپارښتنې او غوښتنې اورئ، درسره یادداشت یې کړئ. کله چې تاسو یو څه له ځان سره یادداشت کوئ، له موقتې حافظې څخه مو ځي او په دایمي حافظه کې مو ځای نیسي. دغه څه مو پر عادت بدلېږي او د اړتیا په صورت کې یې ژر په یاد راوړلی او گټه ترې اخیستلی شئ.

۳- مهربانه اوسئ

مهربانه او زړه سواندي اوسئ. دغه څه مو پر یوه تلپاتې عادت بدل کړئ. هڅه وکړئ چې هېڅکله هم په غوسه نه شئ. دا مه هېروئ چې عاقلانه او له زړه سوي څخه ډکې کړنې تل ښه پایله لري. په اصل کې دغه څه تاسو ته چانس په لاس درکوي چې له نورو سره په اسانۍ اړیکه ټینگه کړئ.

۴- له شاوخوا کسانو سره مو ښې اړیکې ولرئ

په دې وروستیو کې مو د انټرنېټ له لارې د کاري اړیکو په اړه د ۲۰ کسانو نظرونه واخیستل. په زړه پورې خو دا ده چې ۱۹ کسانو یې د خپل کاروبار د پرمختگ اصلي لامل ښې او تلپاتې اړیکې په گوته کړې وې. ډېر کله په یوه مناسب وخت کې یوازې (جوړ په خیر) هم کولی شي ستاسو لپاره د یوې دایمي کاري اړیکې لامل شي.

۵- پر ژمنو مو عمل وکړئ

یوې لویې غونډې ته بلل شوی وم، د زیاتو واورو له کبله ډېری بلل شویو کسانو په غونډه کې له گډون کولو ډډه وکړه. د غونډې جوړوونکو ته مې ډاډ ورکړ چې زه به هرو مرو ستاسو په غونډه کې گډون کوم. د دې لپاره چې غونډې ته پر وخت ځان ورسوم، له خپلو ټولو امکاناتو مې کار واخیست. که په خپلو کړو ژمنو عمل وکړی، کولی شی د نورو خلکو پام در جلب کړی او یوه ښه کاري اړیکه رامنځته کړی.

۶- د هغو کسانو خیال ساتئ چې ارزښت درته لري

که مو له یو چا سره کاري اړیکه خرابه شوې وي، بیا یې نو په اړه ډېر فکر مه کوئ. په شاوخوا کې مو ډېر نور کسان شته چې له تاسو سره کار کوي. هغوی ته ارزښت ورکړئ چې له لاسه یې ور نه کړی. تر اوسه پورې دویم ځلي کاري اړیکې جوړولو هېڅ پایله نه ده ورکړې، ځکه اعتبار د ملغلرې اب ته ورته دی، چې یو ځل له منځه ولاړ شي بیا نه راگرځي. ځان غوښتونکي مه اوسئ او دغه کسان بې ارزښته مه گڼئ؛ ځکه دغه کسان ستاسو د کارکوونکو، مدیرانو او شریکانو په توگه ستاسو په کاري ژوند کې ډېر ارزښت لري.

۷- نور کسان هم ومنئ

کله چې له حقیقت او ښه کار سره مخ کېږی، نو ویې منئ. د ځان غوښتنې ناروغۍ ته مو په زړه کې ځای مه ورکوئ. ښه ده چې ووایئ: «ډېر ښه» او یا «زه باوري یم چې دا کار به دې د ټولو خوښ شي». د نورو د کار تاییدول او قدر یې کول د لویو وگړو کار دی، دغه څه مو عادت وگرځوئ.

۸- مناسبې ډالۍ انتخاب کړئ

د ډالۍ اخیستلو پر وخت یوازې خپله گټه په پام کې مه نیسئ؛ بلکې هغه احساس ته هم پام وکړئ چې مقابل کس یې د تر لاسه کولو پر مهال باید ولري.

۹- د ژوند ښې پېښې مه هېروئ

د هغو کسانو کلیزه او د واده ورځ په یاد ولرئ چې له تاسو سره کار کوي. کولی شی په داسې ورځ خپلې نېکې هیلې یوازې د یوې ټلیفوني اړیکې، پیغام او ایمیل په وسیله له خپل همکار او کارکوونکي سره شریکې کړی او مبارکي ورکړی. دغه کړنه مو کاري اړیکې ته قوت وربښي.

۱۰- ښه عادتونه مو باید تل د ژوند برخه وي

دا سمه ده چې ښه عادتونه مو په کاري محیط کې د بریا لامل کېږي، خو دا په دې مانا نه ده چې دغه ښه کارونه یا عادتونه یوازې په کاري محیط کې باید ولری؛ بلکې له کار پرته د ژوند په ټولو چارو کې ترې گټه واخلئ. دوستان، کورنۍ، د ژوند ملگری/ملگرې او نور هغه کسان چې تاسو ورسره سروکار لری، ستاسو دې ډول عادتونو ته اړتیا لري. نو که غواړی د ژوند په ټولو چارو کې بریالي وی، ښه عادتونه مو د ژوند برخه وگرځوئ.

## شاهین: یوشمېر خوشې شوي طالب زندانیان د حکومت له لوري بېرته نیول شوي دي

حکومت او طالبان پر یوه او بل تور پورې کوي چې د سولې او مخامخ خبرو پر وړاندې خنډونه جوړوي.

د سولې په اړه د بین‌الافغاني خبرو له پیل وړاندې، د افغان حکومت او طالبانو لخوا پر یوه او بل د تور لگولو دا لړۍ د پخوا په پرتله زیاته شوې ده.

دواړه لوري پر یوه او بل تور پورې کوي چې گنې د سولې د هغو هوکړو پر ضد گام پورته کوي، چې د تاوتریخوالي د کمېدو او جگړې د پای ته رسېدو لپاره لار هواروي.

په قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر وایي، د ملي امنیت لخوا د دوی یو شمېر هغه بندیان بېرته نیول کېږي چې تازه له بنده خوشې شوي دي.



د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین په خپله ټویټرپاڼه لیکلي: «د ملي امنیت لخوا په خوشې شویو بندیانو چاپې وهل کېږي، نیول کېږي او بېرته زندانونو ته استول کېږي.»

شاهین د حکومت د دغه کار د ناوړه پایلو په اړه هم خبرداری ورکړی او زیاته کړې یې ده چې دوی خپلو خوشې شویو بندیانو ته ویلي چې په خپلو کورونو کې پاتې شي او د جگړې ډگر ته ستانه نه‌شي. خو د ملي امنیت شورا بیا وایي، که څه هم طالب بندیانو سوگند یاد کړی چې بیا به جگړې ته نه‌ځي، خو یو شمېر یې بیا د خلکو پر ضد وسله پورته کړې ده. د دې شورا ویاند جاوید فیصل وایي: «طالبان باید په دې برخه کې خپل تعهدات عملي کړي. دوی ټول اسیران خوشې کړي، تاوتریخوالی کم کړي، جگړې ته د جنگیالیو د بېرته گرځېدو مخه ونیسي او د سولې مخامخ خبرې ژر پیل کړي.» خو پخوانی طالب چارواکی سید اکبر اغا بیا وایي، وړاندې له دې چې د سولې لپاره رامنځته شوی فرصت جنجالي شي، دواړه لوري باید ملت ته د درېیمگړي په توگه رجوع وکړي.

هغه زیاته کړه: «ملت دلته ډېر سوځېدلی دی په دې اور کې، مالي او ځاني تاوان ملت ته رسېدلی دی، ملت کولای شي داسې گام واخلي چې د افغانستان په گټه وي. دواړه لوري دې له دې تېر شي چې خپله شخصي رایه په چا تحمیل کړي.»

## په کابل کې د هند سفارت: د مهاجرو شویو سیکانو نوې ډله تېره ورځ هند ته ورسېده

په کابل کې د هند سفارت ۱۱ افغان سیکانو ته وېزې صادرې کړې او له افغانستان څخه هند ته تللي دي.

د یاد سفارت په وینا، د افغان سیکانو اتمه ډله تېره ورځ له کابل څخه نوي ډېلي ته رسېدلې ده. په کابل کې د هند سفارت له لوري په خپرې شوې خبرپاڼه کې راغلي چې یو شمېر هغو افغان سیکانو ته یې هند ته د تگ زمینه برابره کړې ده چې دغه هېواد ته یې د تگ لېوالتیا لرله او په افغانستان کې یې ژوند له گواښ سره مخ و.



د یادونې ده چې د هند سفارت د روان ۲۰۲۰ میلادي کال په مارچ میاشت کې په کابل کې د سیکانو پر عبادتځای له بریده څلور میاشتې وروسته ویلي وو، هغه سیکان چې هند ته د تگ لېوالتیا لري، دوی یې منلو ته چمتو دي.

دا په داسې حال کې دي چې په دې وروستیو کلونو کې په افغانستان کې د سیکانو پر وړاندې بریدونه زیات شوي او لسگونو کسانو ته پکې مرگ ژوبله اوښتې ده. د دغو بریدونو وروستي هغه یې په جلال اباد او بیا له هغې وروسته په کابل کې پر دغه اقلیت بریدونه وو چې گڼو کسانو ته پکې مرگ ژوبله واوښتله. د روان میلادي کال د مارچ په ۲۵ مه په کابل ښار کې پر درمسال د برید له امله ۲۵ کسان ووژل شول او اته تنه ټپیان شول.

برید د کابل لومړۍ امنیتي حوزې په شور بازار سیمه کې سهار نږدې اته بجې وشو او شاوخوا شپږ ساعته وروسته پای ته ورسېد.

د یاد برید مسوولیت داعش ډلې پر غاړه اخیستی و او خبرداری یې ورکړی و چې د دوی نور مرکزونه به هم خپله موخه وگرځوي.

شوربازار د کابل زوړ ښار یوه پخوانی ځای دی او د دې سیمې په درمسال کې څو سیک کورنۍ ژوند کوي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶,۸۰ |
| € | ۸۷,۶۰ |
| Rp. | ٤٥۷ |
| ₹ | ۱۰۸۰ |
| ¥ | ۱۰,۷۰ |
| £ | ۹۵,۵۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین

او حشمت الله نوري

**گرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦

۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com

0202502100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696 | waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul | waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۹ د زمري شپږمه | د ۲۰۲۰ د جولای ۲۷مه | ۵۷٤مه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۴ | ۳۸ | ۴۲ | ۴۱ | ۴۰ | ۳۳ |
| ۱۸ | ۲۱ | ۲٤ | ۲۷ | ۲۸ | ۲۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۲۳ | لمر ختل ۰٤:۵۹ | ماسپښین ۱۲:۰۱ | مازیګر ۰۳:٤۷ | ماښام ۰۷:۰۱ | ماخوستن ۰۸:۳۹

## نړۍ




## وکلا: رئیس‌جمهور و رئیس شورای عالی مصالحه ملی کابینه را گروگان گرفته‌اند



با گذشت بیش از ۷۰روز از امضای توافق سیاسی میان اشرف غنی و عبدالله عبدالله و ایجاد حکومت جدید، تاکنون این دو رهبر موفق نشده‌اند که کابینه را اعلام کنند. برخی از وکلا می‌گویند رئیس‌جمهور غنی و عبدالله عبدالله هنوز هم اختلاف‌های شان برسر تقسیم قدرت پابرجا استند و ادامۀ این اختلاف‌ها نگران کننده است. به گفتۀ این وکلا، رئیس‌جمهور و رئیس شورای عالی مصالحه ملی، کابینه را گروگان گرفته‌اند. این در حالی است که تاکنون عبدالله عبدالله موفق نشده‌است که سه معاون برای شورای عالی مصالحۀ ملی بگمارد. عبدالرحمان وردک، عضو ولسی جرگه گفت: «کابینه را گروگان نگیرند و از همین موقع استفاده کنند و نامزدوزیران را به خانۀ ملت معرفی کنند.» عبدالله قرلق، عضو مشرانو جرگه نیز افزود: «عدم تطبیق موافقت‌نامۀ سیاسی، می‌تواند مشکل جدی را به پروسۀ صلح و آغاز مذاکرات بین‌الافغانی ایجاد بکند.» پیش از این، منابعی از فرستاده شدن فهرست نام‌های نامزدوزیران از سوی عبدالله عبدالله به ریاست‌جمهوری خبر داده‌اند، اما شماری از این نام‌ها از سوی رئیس‌جمهور رد شده‌اند. بربنیاد توافق سیاسی، آقای عبدالله پنجاه درصد در معرفی اعضای کابینه سهم دارد و تمامی روند صلح را باید مدیریت کند؛ اما تاکنون آقای عبدالله نه تنها سه معاونش را معرفی نکرده‌است، بل اعضای شورای عالی مصالحه را نیز اعلام نکرده‌است. شهزاده مسعود، آگاۀ سیاسی در این باره اظهار داشت: «جناب داکتر صاحب عبدالله یک وظیفه بسیار کلان را بدوش خود گرفته که آن مسلۀ صلح است. در قدم اول - به‌نظر من - بهتر این خواهد بود که زودتر شورای عالی مصالحه را اعلام بکند.»

## راپورونه: ۲۴ روهنګیایان چې مالیزیا ته د تګ هڅه یې کوله، په اوبو کې ډوب شوي دي

د راپورونو له مخې، د مالیزیا حکومت د روهنګیا د ۲۴ مسلمانانو پناه غوښتونکو د موندلو او ژغورلو عملیات پیل کړي دي. دغو کسانو غوښتل چې د اوبو له لارې مالیزیا ته ځانونه ورسوي او هلته پناه وغواړي چې تایلنډ ته نږدې د مالیزیا په اوبو کې ورک شوي دي. د مالیزیا چارواکي وایي، دغو پناه غوښتونکو له کښتۍ څخه اوبو ته ټوپ وهلی او هڅه یې کوله چې په لامبو د مالیزیا د لانګکاوي ټاپو ته ځانونه ورسوي. د مالیزیا د ساحلي سیمو ساتونکي پولیس افسران وايي، د ۲۵ روهنګیایانو له ډلې یې یوازې یو کس ځان ساحل ته رسولی دی. پولیس وايي، دا کس نور حسین نومېږي، ۲۷ کاله عمر لري او دوی ترې پوښتنې او تحقیقات هم کړي دي. دا په داسې حال کې ده چې په برما کې چې د بودایانو ټاټوبی بلل کېږي، پوځ په ۲۰۱۷ ز کال کې د اورپکو د ځپلو په نامه عملیات پیل کړل چې په ترځ کې یې سلګونه زره روهنګیایي مسلمانان د خپلو کورونو او سیمو پرېښودو ته اړ کړل شول. په دغو عملیاتو کې د دوی کورونه وسوځول شول او جنسي تېري هم پرې وشول او ډېر یې ووژل شول او ژوبل شول. ملګرو ملتونو د پوځ دا عملیات نسل وژنه وبلله، خو د برما پوځ یې نه مني.

## امریکایي او روسي چارواکي د فضایي امنیت د خونديتوب په تړاو په خپلو کې خبرې کوي



د راپورونو له مخې، ټاکل شوې چې یو لوړپوړی امریکایي پلاوی به نن په فضا کې د امنیت په اړه له روسي چارواکو سره وګوري. دا په داسې حال کې ده چې امریکا تر دې مخکې روسیې ته خبرداری ورکړی و چې د فضایي سپوږمکیو ضد وسلو له ازمویلو دې لاس واخلي.
برېټانیا او د امریکا متحدو ایالتونو تېره اونۍ پر روسیه تور پورې کړ چې د جولای د میاشتې په دویمه اونۍ کې یې د مصنوعي سپوږمکیو ضد وسلې ازمویلې دي، خو مسکو دا تور رد کړ. تر اووه کلن ځنډ وروسته دا لومړی ځل دی چې دواړې خواوې په خپلو کې پر دې خبرې کوي چې د فضایي امنیت لپاره باید څه وشي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په یوه خبرپاڼه کې ویلي چې دواړې خواوې به د اټومي وسلو د پراختیا د مخنیوي او کنټرول په اړه د خبرو په ترځ کې په ویانا کې په دې اړه هم بحث وکړي. د امریکا د متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو په وزارت کې د نړیوال امنیت او د اټومي وسلو د پراختیا د مخنیوي د برخې مرستیال کرستفور فورډ د جمعې په ورځ وویل چې واشنګټن هیله لري چې دا کتنه به دواړو خواوو ته په دې اړه چې په فضا کې امنیت څرنګه ښه کېدلای شي، د غور موقع ورکړي او دواړې خواوې به د مسوولانه چلند د لازمو نورمونو ښه کولو ته وهڅوي.


## ژوند

## شتمن کسان ځانګړې جوړښت نه لري



موږ او تاسو ډېری په دې اند یو چې شتمن کسان ځانګړي انسانان دي او فکر کوو چې کېدای شي هغوی د ځانګړو جنټیکي ځانګړنو سره نړۍ ته راغلي وي، خو حقیقت دا دی چې شتمن کسان هم زموږ په څېر عادي انسانان دي. شتمن کسان هم د نورو انسانانو په څېر د قوت او کمزورۍ ټکي لري. په شتمنو کسانو کې هم د بېلابېلو فکرونو او عادتونو خلک شته. هغه کسان چې د شتمنو تر منځ د توپیر په لټه کې دي، کېدای شي دې مسئلې ته رسېدلي وي چې هغوی هم کوم ځانګړي انسانان نه دي.
مالي پوهه هغه کلنی ثابت عاید دی چې د ژوند تر اخره پورې تاسو ته در رسېږي. یو څوک کولی شي ستاسو پانګه غلا کړي، خو مالي پوهه هېڅوک نه شي در څخه اخیستی، هغه څه چې په وسیله یې کولی شی بیا شتمن شی. تاسو چې څومره ژر د مالي مسایلو په اړه خپله پوهه لوړه کړی، همدومره ژر به مو په عوایدو کې هم زیاتوالی راشي.

## ماشومان او پر ځان باور



په ماشومانو کې پر نفس باندې د باور رامنځ ته کېدو مسئله د ماشومتوب له دورې د ۳-۵ کلونو کې پیلېږي ( د ځینو په خبره حتی له دې څخه هم د کم عمر په وخت کې) او دا چې د ماشوم نړۍ څه ډول ده او والدین له هغوی سره څه ډول چلند کوي، په دې پورې تړلې ده. په دې وخت کې د والدینو او روزونکو غبرګونونه د ماشوم (پرځان باندې باور) په برخه کې ډېر مهم او اثر لرونکي دي، ځکه چې هغوی کولای شي ماشوم پر ځان باندې باور ته متوجه او دغه مسئله په ښه ډول هغوی ته ولېږدوي. ماشومان د طفولیت په لومړیو کې د خپلواکۍ غوښتونکي دي او دا یې خوښېږي، چې پر ځان متکي شي. دغه اړتیا په ټولو ماشومانو کې موجوده ده؛ حتی په هغو کې هم چې ډېر کمزوري وي. په څلور کلنۍ کې دغه احساس په دوی کې ښکاره کېږي، چې پر خپل نفس باندې باور وپېژني او پر هغه فخر وکړي.

ماسټر ډېبټ کارټ
د عزیزي بانک ماسټر ډبټ کارټ له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 ملیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
• د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو څخه اخیستلی شئ.
www.azizibank.af | 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank

